# دشهیدډاکتر نجیب الله د شهادت پینځلسم تلین

دافغانستان دملي روغې جوړې د سپېڅلي کرښلارې نړیوال نوښتګر، د افغانستان پخواني جمهور رئیس او ملي اتل شهید ډاکترصاحب نجیب الله او د هغه زلمي زړور ورور احمدزي دشهادت دپینځلسم تلین، د ویاړلي شهید محترمي کورنۍ ته، د وطن ګوند محترمو خورو ورو غړو ته او ټولو هغو محترمو هیوادوالو ته چې د جګړې د ختمېدلو له پاره هلې ځلې کوي او د ملي روغې جوړې په سپېڅلي لاره روان دي ، د لوی خدای (ج) له دربار څخه تسلیت غواړم !

انالله و انا الیه راجعون

***



تـه ګرزې

انتظار یمه په سترګو کې مي تـه ګرزې
غـرق کېږي مې ګرېوان ورسـره تـه ګرزې
ارمان چې دي په ژوند کي پوره نه شو یاره
روح دي په عرش کې له سولې سـره تـه ګرزې

تـه وې

د زړونـو دمحبت قـهرمان تـه وې
د سولې د وحدت قـهرمان تـه وې
ننګرهار د تاریخ دګلو هار شـو
د تـوري د غیرت قـهرمان تـه وې

عبدالسلام اندړ
سویدن-مالمو / ۲۷/۹/۲۰۱۱